


# دمیني څپه

## د تیاري پسي رنا شتون لري

Download from:aghalibrary.cm




د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.ش

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب ځانګړتیاوي

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم : | دمينې څپه |
| کمپوز کوونکی : | محمد نسيم ،شکوري، |
| ډيزاين کوونکی: | محمد نسيم ،شکوري |
| ده ليکولو کال: | ۱۳۹۸المريزن/۲۰۱۹ |
| دچاپ وار : | لومړی ځل |
| ده اړيکي شماري: | ۰۷۲۸۰۹۱۳۴۳/ ۰۷۰۳۸۳۷۳۴۴ |

دچاپ حقوق يوازي له ليکوونکي سره خوندي دى

ډالي:

ده مينې ده څپې په نامه کتاب دي زما ګران پلار جان ته چي زما ده ژوندانه په روزنه او پالنه کي يي زياد بې اندازي تکليفونه ګاللي دي او ټولو ده شعر او شاعري و مينه والو او لوستونکو ته دي ډالي وي چي دا اوس يي هم لوؤلي.

غوښتنه!

په دوعاګانو کي مي مه هيروی ستاسو ده دوعاوو په هيله،



# ســریــزه

دڅښتن تعالی(ج) څخه زیات شکر ادا کوم او ډیر ویاړم چي زه وتوانیدلم چی د خپل زړه یو غټ آرمان د پوره کیدو و هدف ته ورسیدم اوس مهال دخپل شعرو ځیني بیلګی دمیني دڅپی په نامه د کتاب په پاڼو کی په زرینو کرښو لیکم تر څو دهمدي هیواد وګړی د دغو پاکو احساساتو او پیاوړو قلمي مبارزي سره آشنا شی او پدغه لاره کي ورسره ریښتني ملتیا وکړي

زه دفراه ولایت د ادبي بهیر دټولني د سر لاري محمد شفیق «شفقت»او ځینو نورو ملګرو څخه مننه کوم چي تر همدی وخته یی تشویق کوولم.او دي ته یی و هڅولم چي دمیني دڅپی په نامه کتاب ولیکم.

دهمدي با احساسه شاعرانو یوازینی موخه ، هدف او آرمان دادی چی زموږ ګران هیواد ته ریښتنی، واقعي او سراسري سوله راشي همدا راز د افغانستان خلک دخواري ،بی امني ورور وژني ،فقر بیکاري او مهاجرت نه خلاص او یو سمسور ،خپلواک او خود کفا افغانستان ولري

شاعران دا خپله دنده بولي چي ، دهیواد دبیا رغوني په موخه خپل غږ دقلم په مټ دهر با احساسه تر غوږو ورسوي ،

. او په څنګ کي خپله ژبه بدایه کړي او خپل افغاني او پښتني کلتور ژوندی وساتي.

همدا راز شاعران هڅه کوي تر څو هغه کسان رسوا کړي کوم چي ددي هیواد په دیني ، اجتماعي ، کلتوري ، قومي ،سمتي او ژبني مسایلو کښني نا مشروع لاس وهنه کوي.

**ګرانو!** او زړه ته راتیرو لوستونکو او مینوالو! که چیري ده کتاب ده لوستلو پر وخت مو کومه تیروتنه او یا کومه املای غلطي تر ستروګو شوه نو ده مهرباني له مخي بخښنه راته وکړئ او په لاندي شماري راسره په تماس کي شئ.

په درنښت

محـمـد نـسیـم «شکـو ر ي»

۱۰/ دلـړم /۱۳۹۸

# د ښاغلي محمد نسیم «شکوري» لنده پیژندګلوي






دفراه ولایت پیاوړي شاعر: محمد نسیم،شکوري، د محمد صادق زوي د مرحوم الحاج ګل محمد لمسی د مرحوم الحاج ملنګ شکور کړوسی په خته (نورزی) دهجرت په ۱۳۷۷کال کي دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالی د دهزکي په کلي کي په یوه غریبه متدینه کورني کي زیږیدلی دي.او وروسته د دوو کالو څخه کډه شول د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالي د تقصیرک و کلي ته او اوس مهال هم نوموړی په هم هغه کلي کي اوسیږي.

نوموړي خپل دیني زده کړي دکلي په مسجد کي کړي دي او رسمي زده کړي یي دفراه ولایت په مرکز کي د دُراني لوی احمد شاه بابا په عالي لیسه کي تر لسم (۱۰) پوري تر سره کړي وي او په ۱۳۹۶ هجري کال کي یي خپل رسمي زده کړو ته د دوام ورکولو په خاطر دکندهار ولایت په مرکزکي د میا عبدالحکیم صاحب و عالي لیسي ته بدلون پانه انتقال کړه اونوموړی ده دوه کال درس څخه وروسته په۱۳۹۸ هجري شمسي کال کي ده نوموړي عالي لیسي څخه په لومړی درجي فارغ او ده ښوونځي دوره یي پاي ته ورسیدل خو نوموړي له وړکتوب نه دشعر او شاعری سره زیاته بي اندازي مینه درلودل او تر اوس مهاله یي لږ تر لږه۲۰۰ شعرونه لیکلي دي. او شعرونه یي زیاته اندازه غزل دي له غزلو وروسته یي حماسی شعرونه ، نعتونه ، مذهبي شعرونه ،او عاشقي شعرونه یي هم لیکلي دي.

ښاغلي شکوري صاحب په ډیرو مشاعرو کي یي ګډون کړی لکه ده فراه ولایت ده عناب ګل دودیزي مشاعري او ده کندهار ولایت ده آنار ګل دودیزه مشاعره او داسي نورو ملي او دودیزو مشاعروګډون کړی او خپل شعرونه یي و خپلو مینوالو ته ویلي دي

ښاغلي شکوري صاحب دشعر په ژبه دخپل مظلوم ولس ږغ اوچت کړی دی او دحق پلوي یي کړي ده.

د ښاغلي دلا برياوو په هیله

څرنګه چي ښاغلي شکوري صاحب دهیواد او ولس سره زیاته مینه لري نو د خپل شعر په یوه بیلګې کی یي داسی ویلي **دي:**

هم پاکستان او هم ایران او کنادا مو وژني

ځيني په یو نامه په بل نامه صفا مو وژني

شکوري دغه د فرياد ناري تر کله وهي

دغه بي رحمه دښمنان دي خاماخا مو وژني

مورني ژبه

| | |
|---|---|
| دا چــي ژبه مــورني مي ده پـښتو | که ژوندی وم دروم به یي پر پـښو |
| «شــکوري» یم ده پـښتو ژبي خــادم | زما پر زړه باندي لیکلي پرینتو |

# حـــــمد

الله یو دی وحـــــــــــــدانیت کي پاچاهـي کړي
ده دا ټولو زنده جاتو مــــــــخلوقاتو امیري کړي

دا الله دی چي وریـــــــــــــځي یي خپري کړي
ده آسمان په هرکنار تَـــــــــــــــجلي کړي

ده الله ده وحـــــــــــــــدانیت قدرت روښان دی
ده آسمان پر مخ وریـــــــــــځي ځوړندي کړي

ظاهراً که دغه وریځي سپکي ښـــــــــــــکاري
ده باران څاڅکي تري اوري صوت دستي کړي

که درني وي دا وریځي نه کـــــــوز کیـــبږي
که وي سپـــــــکي نو فضا ته تــــــلواري کړي

ده ســــــــــحاب او ده ریـــــاح معنا نو څه ده
په معنا یي عالِمـــان دي چي پوهـــــــــي کړي

زه «شـــــــــــــکوري» یو عاجزه بنده ستایم
ربــــــــــه ما ده پرهیزګار پر لار راهي کړي

۸/۳/۱۳۹۷

# نعت

صــدقـه دي تــر نــامه شــم پــیغمبــره
زه دي جــار تــر مدینـــه شـــم پیغمبره

تل دیــدن مي یو آرمـان د مدیـــنـي دي
زه قربان ستا تــر خــــانه شــم پیغمبره

چي ماشوم وم دا ستامینه مي پرزړه وه
تل دي یون زه تر روضه شــم پیغمبره

ستا درود مي دئ د زړه پر سر لیکلئ
ستــا دښمن ته خنجــر زه شــم پیغمبره

شـــکوري محمد نسـیمه ځان آګاه کړه
زه دي مـیـنـه کـي لمـــبه شـم پیـغمبره
۱۳۹۶ / ۸ / ۲۳

# ده شپي ستوري

درد درمان چي دي پر زړه وي بيــــــابه څه کړي
چي مي نوم ده يار پر خوله وي بيــــــابه څه کړي

زه هميش يمه خفــــــــګان خفــــــګان به ګرځم
چي پر دښـــــــــــت مي ګذاره وي بيابه څه کړي

زه ده غره په سر لمــــــنه کي اوسيـــــــــــــــبږم
چي مي شپه په منځ ده غــــره وي بيابه څه کړي

ده شپي ســــــــــــتورو ته زه ګورم په ژړاشم
چي په شپي مي زمـــــــــزمي وي بيابه څه کړي

زه ده هغه سترګو ډير ډير آرمانــــــــــــــجن يم
چي آسمان ته مي کاته وي بيــــــــابه څه کړي

زه بــــــــــنده ته بــــنده ګي نکړم بــــــــنده يم
چي بــــــــــنده ته يي ســــجده وي بيا به څه کړي

زه محمد نسيم«شــــــــــــــکوري» يو ساحل يم
چي غوښتل مي مديـــــــــــنه وي بيابه څه کړي

۲۹/۶/۱۳۹۶

# ده بېلتون ږغ

جنـــازه مي پورته کیـــــــږي زما دوستـــانـــو
مُـــــــــــــلاقات مي نن ختمیږي زما دوستانو

زما ده قـــــــــبر په کـــیندلو خلک بوخت دي
قریبـــــــــــان مي ټول ژړیـږي زما دوستانو

دا چي زه په سپیـــن کــــفن کي بندیـــوان یم
پــــــردي لار ټول روانـــیږي زما دوستانو

چي ژوندئ وم زما پوښتنه چا ونـــــــــکړه
اوس هر څوک غمګینه کیـــږي زما دوستانو

زه خو ستاسو دوعاګــــــــــانو ته محتاج یم
نور مي هیڅ نه پکاریــــــــــږي زما دوستانو

تـــاسي ونه کړئ ګنــــاه پـــــدي دنیا کي
ګناهونه لیکل کیـــــــــــږي زما دوستانو

نور بـــــــس بســـه کړئ ده الله رضـا لپاره
ده خلاصون لار پیـــداکیـــږي زما دوستانو

«شـــکوري» بس ته شاکر ده خپل رَب اوسه
نور شکرونه اداکیــــــــــږی زما دوستانو

۲۴/۱۱/۱۳۹۵

## ده شاعر وینا

زما ده مینې په کتاب کې ځو شــــــــعرونه ښـــــــکاري
په دا هر بیت او هر مـیسرې کې یې خـــــــوندونه ښکاري

زما ده ســـترګو اوښکې وچې شوې په دغـــــــه وخت کې
پر وچو شونډو مې ده یار ده غم زخــــــمونه ښـــــکاري

مینه ګلاب بـــورا جفـــــــا ده ده ګلاب په څـــنګ کې
ده ګل ګلاب ده چـمنونو انـــــــــــځورونه ښـــکاري

زما وطن دئ ده خونــــــــــــــــدونو او ګلونو بازار
په هر دوکان کې یې ده مجنون ده شعر بیتونه ښکاري

زړه مې په مینه ده وطـــــن کې تل زخمي زخمي دئ
پر هر فـــــرهار مې ده وطن ده غم داغونه ښکاري

دا چې مـــــــــــین یم ده وطن پر هره دښته باندی
زړه مې خپه اوښکې مې څاڅي ټول ډاګـونه ښکاري

دا ظـــــــــالمانو پر غماز بانـــــــــدې پلورلی دئ
پرهر سرحـــــــــد باندې یې ماته تیر یادونه ښکاري

محمد نسیم «شـــکوري» تل رب ته دوعا کړي ده
وطن ودان کړي په ښارو کې لا جنګونه ښکاري

۵/۸/۲۰۱۸

قــرانـــکـــریـم چــي د اللّٰــه (ج) سـپیلڅۍ کـتــاب دی او د مــســلــمـانـــانو د یـــن او قـــانـــون یـــواځـــي او یـواځـي قـــــرانـــــکـــــریـــــم دی نـــو شـــــــــکوري صـــاحب هم خپل شـعـري الّهام و ګـرانو لـــوسـتـونـکو ته وړانـدي کــړی دی .





ښـایـسته نـور او ښــه ویـنـا لـري قـــران
په نـــړي کــی ښـــه ځـــلا لـــري قـــــران

زمـــوږ زړه دی ټـول اسـلام یـــو په ژونـدی
په تـیـاره کـــي ښـه رڼـــا لــــري قــــــران

په معـنـا کــي یــي معـنا ډیـــره ښـایـسـتـه ده
هـــر ګـمـرا لــــره عـقـبا لـــري قـــــران

پــه لـوسـتـلـو یــي ټـــول زړونه ارامـــیــږي
آخـیـرت کـي ښــه شِــفـا لـــري قـــــران

هـم حـــرام او هـــم حـــلال پـــکـي بیان دی
پـــر جـهـان لـوړه مـعـنا لـــري قــــــران

زمـــوږ رب دغـه کـــلام مـــوږ ته نـــازل کـــړ
هــــره بــنـده لـــره دوا لـــري قــــــران

عــدالـــت او مـــیزانـــي پـــکي چـــلـــیـږي
هـــر مجـرم لــره ســزا لــري قـــــــران

په ویـــلـــو یي تارخـــه هم خـــواږه کـــیږي
هـــر مـــسلم لـره بـــقـا لـــــري قـــــران

عـــالـــمان یـــي په ویلـــو فیصـــلي کــــړي
هـر یـو کس لره فـتوا لــــري قـــــــــران

«شـــکـوري»تل عاجزي کـــړي وخـپل رب تـــه
هـــر عـاجزه لره رضـــا لـــــري قــــــــران

۱۳۹۶ / ۶ / ۸

## اسلامي تدریس

ستر قـــانون ستري وعدي لري اســــــــلام
هم مســــــجد هم مــــدرسي لري اســــــلام

ټول جلسي مو د قـــران په نور روښـــــــانه
هم جهاد هم شاه زلمـــي لري اســــــــــلام

ټـــول قاريان مو د قران په پيل خـــوند کړي
په قـــران کي فـيصلي لـــري اســـــــــلام

د اســــــلام په شـرعي مـــدرسـو ويــــاړو
د دستــــار هســـکي شمـــلي لري اســــــلام

د اســــــلام د ديـن پايــــه يـــــي پخه کړي
ســـــتر مـذهـبي حـــنـفي لـــري اســـــلام

د اســــــــلام ټول عـــالمان وربانديي وياړي
چي جـلســـي تل شـــــرعي لـــري اســـــلام

شـــــــکوري محمد نسيـــمه ځـــان اګاه کړه
چـــي عــــقبا کـــي شفاعي لري اســــــلام

۲۴/۱۲/۱۳۹۷

# دینـي لاربنود

هـــــر محـــفل کي ښـــکلي تـــــــراني لـــــرو
ګـــل غــوندي ځـــوانان هســـکي شمـــلي لـــرو

زړونــه مـــو د څـــراغ غونـــدي روښـــانه دي
ګـــل غـــونـــدي مــذهبي حــــنـــفــي لـــرو

دیــــن مـــو دی قــانـــون دی قــــــرآن لـــرو
دیـــن د پـــاک سبـحـــان هـــم قــرآني لـــــرو

تـــــوره تـــاریکه چـــي په روښـــانه شــــــوه
لمــــــر غونـــــدي قـــانـوني عمـــــلي لـــرو

دا ډیـــــمـــوکــــراسي بـــه په ویـــجاړه کـړو
قانــــــــــون شـــــرعـي پـــاک الــــهَي لـــرو

تـــل مــــو ده وینــــا په حـــقیقت ســـــــره
څـــــــــراغ غونــــــدي اعلاني جـهادي لـــرو

زمـــا مـــحـمد نسیم «شــــــکـوري» دا وینـــا
شـــــعر کـــي فیصلي تـل شــــــرعي لـــرو

۲۴/۱۲ /۱۳۹۷

## شکر شعر (خوږشعر)

دلــم تـو ګُشت په خپل سپیکینګ کي آشنا
مـــاته راځه په  ګووډ مارنینګ کي آشـنا

د کـــوهســـار نــسیم نـــارمل اسـت کـه یا
ماته یک لیک لیکه سیرچینګ کي آشنـــا

ستـا دا هر څه زما په ایډیا کي ګـــرځي
نـــظر مـــــــن ستا په ریډینګ کي آشنا

اګـــر که تـــو شولي خسته په کلاس کي
مـــاتي رالـــيږه میسیجینګ کـــي آشنـــا

«شـــــکوري» تا یک شـــکر شعر لیکلۍ
فـــرسان مـــن ستا په رایـټـینګ کي آشنا

۱۴/۱۲/۱۳۹۷

## د فقيرآواز

هم مي ګل هم مي ګلزار په ښار کي ګرځي
هم فقير هم مي مالدار په ښار کي ګرځي
دولتونه مختلف په دغه ښار کي
هم مي سوله هم اغيار په ښار کي ګرځي
د فقير مي وس کي نشته طعامونه
دا لوي خيټي مو خُمار په ښار کي ګرځي
يتيمان و خپلو مندو ته ژړيږي
دوي له لوږي وخت نهار په ښار کي ګرځي
دغه ځينو د يتيم ويني ځبيښلي
چي په عشق او په شُعار په ښار کي ګرځي
داچي لس۱۰منزل بلډينګ يي دئ جوړ کړی
دا ده سود رشوت آخبار په ښار کي ګرځي
دا ولس او هم وطن يي دئ خرڅ کړی
چي مارکس کي په هر بار په ښار کي ګرځي
زما محمد نسيم «شکوري» د ليد حال دئ
چي دا اوس هم د غُبار په ښار کي ګرځي
۱۴/۱۲/۱۳۹۷

# مینه په وینه کې

اوس په مـــــینه کې د عشق وینه په کار ده او که نا
د مـــیني وینه ستـــایم دا دمیني یو اظهار ده او که نا

دا ځیـــني خو د عـشق په مینـــــــه نه دي پوهیدلي
داده مــــیني په قـــانون کي ګـــــــنهکار ده او که نا

الـــفت مي د ســـرو وینـــو په بهـانه دې پوهیدلـــــې
نــــاپــــوه مــــي قلـــــمرو دنن سهار ده او که نا

راځـــې چي د ناپـوهو په زړګي کي غشي ښخ کړو
د مــــیني په قانـــون کي دا ګـــــــفتار ده او که نا

د مـــیني یو قانـــون دې د عــــــرفان په فلسفه کي
دا ټـوله فیلـــسوف د خـپل بـــــادار ده او که نا

زمــــوږ د شـــعر آداب کي یو د میني ښه قانون دې
قانـــــون مو په هر بیت کي ګلـــــنیګار ده او که نا

مـــحمد نسیـم لقب د «شـــکوري»په وینـا جوړدې
د ګـل په هـر نـظر کي زمـوږ سالار ده او که نا

۱۲/۱۰/۱۳۹۷

## کندهار

ته يي ځـــال د پښـتـنـو نام او نامـداره　　　تل په کي مي اوسيږي کـــــــــندهاره

ستا تاريخ ته ټول وګړي لاس په نام دي　　　ته يي خـاک د اولياوو زموږ سـالاره

ټول بچي دي غيـرتي او ميـــړاني دي　　　په تاريخ دي افـتخار کـړو زموږ بهاره

باغ پُل که آرغســتان که دي دامان دئ　　　داحمـــــد بـچو ته يـــــي ګُلـــګلــزاره

هم ژړي هم پنجواهي مو ډير ياديږي　　　په پسرلي کي دسندو دي وي شورهاره

زما زړه يي زما تن يي زما وطن يي　　　غيـــرتي دي ټول بچي دي زمـا ښـــاره

چهل زينه مو و فـردو لره زنځير ده　　　زمـوږ خوښيږي د بابا صاحب درباره

زمامحمد نسيم«شکوري»دزړه سريي　　　په ويـــلـــو دي ګفـــــتار يم ګلنيـــګاره

۲۸ / ۷ / ۱۳۹۶

# دفراه ترانه

د ښکلو ښایستو غرونو یې قربان شم زموږ تــن دی
فراه د عشق ګلبڼ دي «تکرار»

غټ رود دی د فراه بل دښته د بکوا ښایسته رنګ او زیبا
په وینــو به یې ساتو زموږ روح او زموږ وطن دی

یوه ده قلعه کاه بل نوم دی د بکوا په طمعي د سبا
له جنـــګ نه به یې ســـاتو د ولـــس یې دغه فن دی

بالابلوک زیبا خاکیسفید صفا د پشترود بقا
د ټولـــو پښتـــنو او شمـــلورو دا میهن دی

د پُرچمن نظر جوین مو دی لښکر د پشت کوه لوړ غر
په غیــرت یې نازیــږو میلمه پاله او شتمــن دی

ده آنار دري خبر ګلستان مو دی ځیګر د فراه بهیر دفتر
د کانو په تاریخ کي زموږ فــراه د خاک پتمن دی

د تقصیرک باغونه پراته پکښي لعلونه په څنګ کي یې سیندونه
په هر غم یې ژړیږي «شـــکوري» باندي غمجن دی

۱۴/۷/۲۰۱۸

## د تـــــعلیم انتخاب

پـــورته شـــه افغـــانه په هـــــــــــــندار کي دي ځان وګوره
مــــــه کـــــوه خـــــوبــونه په ســــهار کي دي ځان وګوره
خـــــــلکو په تـــــــعلیم بانــــــدي آسمـــان کي سپوږمۍ وکتو
ته لا کـــــــړي خـــــــوبــونه په اعــصـــار کي دي ځان وګوره
ستـــــا په تاریـــــــخو مــــــو د تـــاریــخ پاڼي رنګیني دي
پـــــــورته دي تاریـــخ کـــړه په مـــــنار کي دي ځان وګوره
تـــــه د هر ټـــــــوپک پر ځـــــاي بـــچو ته دي قـلم ورکړه
بیـــــا به مـــــــوږ ســـیالي کـــړو په اغیار کي دي ځان وګوره
ستـــــــا و هـــــر مـــــاشوم ته د قـــــلم پرځاي ټوپک ورکړي
دا فـــــــردۍ سیـــــاست دۍ په فـــــرهار کي دي ځان وګوره
بـــــــس ده آي افـــــغانـــــه د تـــــــعلـیم لاره دي غوره ده
ستـــــــا تـــــــــعلیم بـــــلبل دۍ په بهار کي دي ځان وګوره
دا وطـــــــن اړیــــــن دۍ و تـــــــــعلیم ته ضـــرورت لري
بــــــس به کـړو جـــــــنګونه په انـــــګار کي دي ځان وګوره
پـــــورته به هــــــــنداره کړو هـــــــنداري کي ځان ښه ښایي
ویـــــــښ ســـــولي افغــــــــانه په بازار کي دي ځان وګوره
زما مــــــحمد نسیم«شـــکوري» دغه انـــــــــتخاب خوښ دۍ
وایمه تـــــــعلیم سینــــــــګار کي دي ځان وګوره

۳۱/۷/۲۰۱۸

# د غمزده زړه یادونه

عــــشقه لیـــونۍ زه تبـــــاه تبـــــاه لـــمبه شومه
زه ده بي وفاه جـــانان له عـــشق نه دیــــوانه شومه

زه دي کــــــړم ساحــــل دا ستا ده حُسن یو آرمان لرم
ګرځـــم پر صـــحراوو پر زبان نـــــوم د جانان لرم
زه ستـــــا د بیــــلتون نه هم ګیله او هم خفـــګان لرم

ستـــا له دي فـــراق نه پر دنیا لـوي غــــمزده شومه

زما چـــي ده خپل یار ښــایستي سترګي او ځیکر یاد شي
کـلـه مي سهـــار کله غـــــــــرمه او مازدیګر یاد شي
بیا مي په سوچــــو کي د جانان د عــشق شکر یاد شي

زه یـــي په دیدن پـــسي د غم د عشـــق خطره شومه

لاړ زه پـــــر بيابان وم زه له ښـــــــكلو توبګار شومه

ډير زه غـــــــمزده وم زه له خپل كـــار نه بيكار شومه

زه يو ډيـــــر ساده وم پر ښايـــستوسترګو يې خُمار شومه

زه يي شــــــرابي كړم په نشـــــــو كي يي نشه شومه

زه غمـــــګين ساحــــــل يم زما دغه يو آرمان پر زړه

نــــاست يي پر پالنـــــګ يم زما مـــينه د جانان پر زړه

زما مـــحمد نسيـــم «شـــكوري» دغه يو برهان پر زړه

وينـــي مي څڅــــيږي پر آغـــزو بانـــدي ويـــده شومه

۱۰/۷/۲۰۱۸

# ځـــه وليکم

عـــــشقه لـــيونۍ زه پــر خـــار باندي څه وليکم
ويني مـــي څڅـــيږي پر ګلــزار باندي څه وليکم
زه چي وم ماشوم د ماشومتوب وخت کي ناپوه ومه
داده ګلـــو ښار دئ پر اغيـــار بانـــدي څه وليکم
مينـــــه مي ځپانــده زه د عشق په سمندر کي ډوب
غـرق يي تر سينه کړم پر خپل يار باندي څه وليکم
ما د سمنــدر لــــــه دا وړو شيـــــلو نه څه غوښتل
مينـــــه مـــي رسـوا شوه پر دلدار باندي څه وليکم
دا چـــي نـــن اختـــه يم زه د عـــشق له سمنـــدر سره
مـخ ته مي دفتر پورت پر هنـــدار باندي څه وليکم
اوښکي مي ويالـــي ويالـــي بهيـــږي د ګلبڼ پر لور
وچـــي مى چشمـــاني پر انـــګار بانـــدي څه وليکم
زما اشعـــــار پخيـــږي د فرهـــار د ياديدو پر آور
زه خوار سوچ تباه کړم چي پر لار باندي څه وليکم
ستايـــم زه محمد نسيم «شـــکوري» د اشعار فرهار
مـــــــرګ ته مخـــامـــخ يمه پر دار باندى څه وليکم

۲/۸/۲۰۱۸

# پخواني مینه

مینـه يي زړه کي د مـــجنون غوندي سودا نکوي
لیـــلا مو شتـــه ده خو يي مینه اوس وفـاه نکوي
مینـــه په زړو کي د ځیـــرو په شان معلومه نده
مینه يي ښـــکاري په ځیـره کي خو خنـــدا نکوي
ماشومان وايي ښه درسونه د خپل مور غیـږه کي
دا تعلـــیمونه د خپـل مور غیـــږ کي سبا نکوي
د جــــانان مینه د میـن په زړه کي څومره ښه ده
دا هـــــر میـــن په خپـــله مینه کي وینـا نکوي
ماته مي زړه کي د وفآ د عـشـق بیتـــونه راغلل
وفــــآ لیکمـــه خو دوي مینـــه د پـــخوا نکوي
مینـــه مى زړه کي د وفـــآ وفـــآ نـــاري وهمـــه
جـانان ګـــویا شو چي دايي مینـــه لا ګـــدا نکوي
بـــلبل ریـــزونه کـړي د وني وچـو پاڼو لاندي
ریــــزوني نشتـــه دا ریـــزونه د بیـــګا نکوي
قلـــمه تـــاته مي د مینـــي د اقـــــرار پته ده
زړه مي سوځیـږي په سره آور کي څه ژړانکوي
مــحمد نسیـم «شـــکوري» ته لیکه شاکر بیتـونه
ستا د قلـــم لیکـــوال شاکر دئ څه جفـآ نکوي

۴/۸/۲۰۱۸

# د مينې وفآ

مينـــــه مـــــي وفـــآ وفــآ نکوي جفـآجفـــآ
ګرځــــم وچي شونډې زه نه کوم خنـدا خنـدا
ستـــا د بيلتـــانه په آور زه يم سوځيـــدلـی نن
ګرځـــم پـر صحـرا صحـرا زه يم په ژړا ژړا
ستا دا ښايستو سترګو زه پر زړه زخمي کړه مه
زه خوار ستا مجنـــون يمه وايمه ســودا ســودا
زما زړګي کي آوربل دئ ستا له بيلتـانه نه بيا
زه چي شم ايـــري ايـــري نلرم پـــروا پـــروا
مينـــه مي په حـــق مينه مينه مي د زړه مـينه
مينه که مي مړه شـــوله نـــلرم تقـــوا تقـــوا
مينـــه مي په وينـــه کي وينـــه مي د مينـــي ده
زه په حق ميـــن يمه تـــل يمه ګـــويـــا ګـــويـــا
ختم مي ژونـــدون د ګل ګل مي د ګـــلاب اتـــل
ژوند خــــو ختميـدل لري نلـــري بقـــا بقـــا
زما محمد نسيم «شکوري» مينه له قران سره
مينـــه مي د زړه پر سر دغه مي وينـــا وينـــا

۵/۸/۲۰۱۸

# د استـــاد مقـــام

استــــاد هغه رهنــــما دئ په ژونـــدون کي
و تیــــــــارو لره رڼــا دئ په ژونـــدون کي

ده دپـــــلار لـــقب په خپـــل علـــم ګټــلئ
دئ دهــــر شاګرد بـــریا دئ په ژوندون کي

هـــم ډاکتـــر هم انـــجینـــر یي ثمـــــــره ده
د تعلیـــــــــم د پخش ځلا دئ په ژوندون کي

تکلـــــیفـــوني دي ګــــاللي شپـــه او ورځ کي
دئ د هر رنـــــځور دوا دئ په ژونـــدون کي

چـــي په حـــق یي خپـــله دنـــده وي سپارلي
هـــر ماشوم لاس په دوعا دئ په ژوندون کي

مـاته ډیر ښه د استاد مقـام معلــــــــــوم دئ
د تعلیـــــم د رمـز رفا دئ په ژونـــدون کي

زه محمد نـــسیم «شـــکوري» یي تل ستـــایم
و ناپـــوهـــو ته مصبـــا دئ په ژونـــدون کي

۱/۲/۱۳۹۷

# هــجـــــــران

خپل نصیب ته یم حیران په زمانه کي
تل ژړېږم د بې د ینو په کو څه کي

زه خُمار وم میخاني لره روان وم
بس نا څاپه يي بیمار کړم توره شپه کي

پر ګلاب باندي دستورو ځلا راغله
بوراګان شوله مهاجر په میخانه کي

زړه مي مل د بوراګانو بورا ولاړه
پر چمن مو کربلا شول آینده کي

تل دزړه په رنځ اخته یم درمل نشته
درمل نه پلوري طبیب په دوکانچه کي

زړه مي تل دخپل جانان یو دیدن غواړي
زړه مي ډوب دسمندر هره شیله کي

زما ربه مناجات کړم درته ژاړم
خواست مي دي دجنازي په مدیني کي

زه محمد نسیم ،شکوري، خوار بیمار یم
زه د سترګو په باڼو یم خدنامه کي

۱۹/۷/۱۳۹۷

## له فراق نه نفرت

راشـــــــې د ګلـــو پر ښايســتو پاڼــو غزل وليکو
د مينـــانو په ښايستـــــــو زړو کي بلـــبل وليکو

چــــي نه بيلتـــون وي نه جفاوي جدايي هم نه وي
پردا وعــدو په د تعهُـد په شان ســـــومبل وليکو

چي نه مو منځ کي د فراق او نه بيلتـــون وينا وي
راشې ټول خپل شو يوه سوله پر سپيـن ګل وليکو

تل به يولاسې او يو مُټې شو دښمـــن ته موږ ټول
په خپل وطن کي به پښتـــو د قـــــــام اتل وليکو

زړه مو درديږي و درمــل ته ضرورت دې زموږ
راشــــــــې دي درد ته يوه سوله خپل درمل وليکو

محمد نسيم«شــــکوري» سوله د کلاب په خير ده
دا يوه ســـوله به په هر ګلشـــــــن کي تل وليکو

۲۹/۷/۱۳۹۷

# ښایسته افغانستان

زما فــــــــراه زما هلمند زما کندهــــــــار خوښیـــــــړي
زما د مــــــرچ آغا بابا صاحب دربـــار  خوښیــــــــــړي

ټول پښتـــــانه دي په غیرت او په شملــــــــــــو يي وياړو
زموږ بادغیس زموږ هــــــرات زموږ ننګرهار خوښیـــړي

زموږ په فــــــــراه کي د شیخ شاه بابا مزار ګلـــوریـــــــــن
زموږ افغانانو خپل پیتخت کابـــــــل سینګار خوښیـــــړي

زموږ د بامـــــیان پنجشیـــر کنـدوز د وياړ جامونه ګورئ
زموږ د کنړ غزني روزګان د عـــــــشق بهار خوښیــــــړي

زموږ وردګ لغمان فارياب خوست دایکـــنډي وګـــــــورئ
زما بدخشان جوزجان پروان کي چاریکار خوښیـــــــــــړي

بلــــــــــخ دئ خـــاک د اولیـــاوو او پتمنـــــــــو خلکو
بغلان پکتیا لـــــــوګر ښایسته دي زما تخار خوښیـــــړي

ټــــول افغـــــــــانان یو د احمد مـــیرویس په توره ویاړو
کاپـــــیسا ځای دی د باتـــورو زموږ یي ښار خوښیـــــــږي

که ســــرپُـــــــــــل که سمنګان دی په غیــــــرت یي ویاړو
زما پکتیـکا او غـــــور همیش ګلـــــګلــــزار خوښیــــــږي

نورستــــــان ټوله شو روښــــــانه ده اسلام په راتـــــــــلو
زموږ د امـــیـــر عبدالــــــرحمَن خان یادګـــــار خوښیـــــــږي

فـــراه ښایسته دی تقــــــــصیرک د ښایسته سیند په څنګ کي
زما د زابـــــــــل د تورو غرونو کوهسار خوښیـــــــــــږي

مــحمد نسیــم «شـــــــکوري» تل د هر افغان خــــــادم دی
ده ده د ښـــــــــــــکلو افغانانو هر ســــالار خوښیــــــــږي

۱۴/۱۰/۱۳۹۶

# د میني اظهار

چـــــاته قلعه چاته بـــــــــلا شي مينه
چـــاته ژړا چاته موســــــکا شي مينه
څوک وي ګدا څـوک وي مالدار د میني
چاته بيلتـــــــــون چاته وفـــآ شي مينه
ماتي خفګان ماتي بـــــرهان معلـوم دئ
چاته بريـــــا چاته قضـــــــا شي مينه
د هر ميــــــن د میني خونـد پر زړه دئ
چاته تقـــــوا چاته ګنــــــــاه شي مينه
شاعــــــــــره ستا د شعــــر الهام د میني
چـــــــــاته تياره چاته رونـــــا شي مينه
مينه د وينــــــــي د جذبـــــــو يو څانګه
چاته فرهــــــــــار چـــــاته دوا شي مينه
مينه ژوندون ژونـــــــدون د میني وينه
چاته شبـــــــــاب چاته بـــودا شي مينه
مينه شاعــــــــــــره د كتـــــاب پاڼه كي
چاته انـــــــګار چاته زيبـــــــا شي مينه
محمد نسيـــــم د میني باب تعريـف كړ
چاته ګــــــــدا چاته پاچـــــــا شي مينه
خــوار«شـــــكوري» مينه په وينه ستايي
چــــــاته تاوان چاته بـــــــــريا شي مينه

۸/۶/۱۳۹۷

# ګراني موري

زمـــــا ستـــا مینــه په زړه کي ګراني موري
ستا د عشق خوند مي په خوله کي ګراني موري
ســـتا لــه میـني نــه قــربـان او صد قـه شم
ستـــا نـــوم اخلمـــه سـینـــه کـي ګراني موري
جنـــتونـه واړه ســـتا تـــر پـښـو دي لانــدي
مـــینه ستـــا مـي ځـــیګره کـي ګراني موري
چـــي مـاشـــوم وم تکلـــیفـونـــه دي ګا لــــله
دا ســتـا مـینه مي څـــیـره کـي ګراني موري
تـا و مــا تــه به تر نــیمو شپــو کیـسي کړي
ډیر خوښحال دي وم حجـره کي ګراني موري
بـیله تـا دا کـورګــی هـســي راته ښــکاري
غـــونــدي اوسـم هـدیـره کــي ګراني موري
چـي مـاشــوم وم تــا ومــاتـه زمـــزمي کـړي
زه خــوشــحــال به وم ساړه کـي ګراني موري
ســتا دوعــاوو ته مــحـتـاج زه شـــــکوري یم
تــه مـي یــاد هـره لــحظه کــي ګراني موري

۵/۸/۲۰۱۸

# جاهلت

وخته له تانه مي ګیله ده وایه څه ولیکم
زما ده پوهي ډیوه مړه ده وایه څه ولیکم

قلم په لاس کتاب ته ګورم کتابچه مي نشته
په زړه مي بله سره لمبه ده وایه څه ولیکم

خاص د پښتون لاس کي ټوپک دئ په قلم شرمیږي
یمه خفګان توره تیاره ده وایه څه ولیکم

زه تل په طمعه د احساس یم ضمیرونه مړه دي
زما د کتاب پاڼه سپیره ده وایه څه ولیکم

په صنف د میني کي تدریس کړم چي مین به شمه
د هر مین ستړي سینه ده وایه څه ولیکم

افسوس افسوس د ماشوم توب وختونه ډیر یادوم
اوس هر ماشوم لاس کي وسله ده وایه څه ولیکم

دښمن مو واخلي قلمونه موږ ته توره راکړي
لاس کي قلم زړه کي رزمه ده وایه څه ولیکم

خپل ټوله عمر په تیاره او تاریکو کي تیر کړو
وروسته افسوس لویه خطره ده وایه څه ولیکم

زه تل ګویا محمد نسیم «شکوری» داسي وایم
زاغان دي ورک شي زموږ د سولي آوازه ده وایه څه ولیکم

۱۲/۷/۱۳۹۶

## لوند ګریوان

زړه کي مي آرمان دی چي يي ګرځوم
سخت زما خفګان دی چي يي ګرځوم
زړه کي مي يو نوم ده جانان پند ښکاري
ګران پر ما جانان دی چي يي ګرځوم
مينه محبت په ژوند سرور راوړي
ګل زما برهان دی چي يي ګرځوم
روح مي د جانان په ياديدل کاندي
روح کي مي آلحان دی چي يي ګرځوم
نور مي پر زړه بل ده ميني آور دی تل
مينه مي کامران دی چي يي ګرځوم
زما پدا بيتو کي يو څه نه ښکاري
زړه کي مي عرفان دی چي يي ګرځوم
ليک ليکم قلم باندي ده سولي زه
ليک کي مي نښان دی چي يي ګرځوم
زما محمد نسيم «شکوری» زغم پر زړه
لوند مي لا ګريوان دی چي يي ګرځوم

۵/۷/۱۳۹۶

# سپـیـن پښــتانه

یمه پــــــــــښتون زما غـــــیرت زما آیمان و ګوری
په لـــر غــنتــوب کي مي تاریخ د احـــ-مد خان وګوری

زما په تاریخ باندي کتـــــــــاب او کتـــابونه ډک دي
په هـــــــر تاریخ کي مي تاریخ ده شاه آمـــان وګوری

پښتون زانــــــګو کي د غیرت او ننګ تدریس کړی دی
په وینو رنګ د جنګ ډګـــــــر کي غـــلیمان وګوری

مور مو شــــــــیدو کي د غیرت شراب راکړي دي تل
زمـــــــوږ په تاریخ کي تښتـیدلي مات روسان وګوری

دا پـــــــــښتانه د میرویس خان او احمد خان لمسي دي
زموږ پـښـتـنو قانـــون شریعت دی پاک قرآن وګوری

تل یو په ځـــاله د غــیرت موږ بي ننــــــګي نه زده ده
د ننـــګ ډګر ته یو موږ یــــــون زموږ آرمان وګوری

مـحمد نــسیم«شــــکوری»تل سپـــــین پښتانه ستایلي
په ټول نــــړي کي ده خوشــــحال بابا دیـوان وګوری
۲۸/۷/۱۳۹۶

# آمانت او خیانت

بعضو خپل دیـــن بعضو مذهب بعضو خپل پت خرڅ کړی
بعضو وطـــن بعضو دولـــــــــت بعضو نفرت خرڅ کړی

د پـــــښتنو په خــیر همـــــــــیش داسي سیالي کړي چا
په لاس کي تـــــوره خپل دښمن یي په ښه نیت خرڅ کړی

بعضي په شان دجنــــکو په لاس بنـــــــــــګړي ګرځوي
زما په لاس کي بــــند دستي ده مــــا خیانت خرڅ کړی

اوس خیانتـــــګرو ته دولـــــت په لاس ورغـلی که یـــا
زمــــــا د کلـــــي په ودونو کي بُـــم غـــــټ خرڅ کړی

زي الکـــایـــده کړم د جاسوس په نوم تـــــورن یم که یا
تاتي په ټولـــــه دولـــــــــتو کي بـــد سیاست خرڅ کړی

زمــــا مــحمد نـــــسیم«شــــــکوری» ژړا به وي تـــل
ما په هر شــــعر کي د شعــرو د کـــور جنت خرڅ کړی

۱۰/۹/۱۳۹۶

# خـــزان ګلـــبڼ

غلیمه پام چي سر را لـــــــوړ نکړي چــلونه شته دي
زمــوږ په هر ځاي کي د بـــــــاروتو لباسونه شته دي

تا ښایـــــسته ګل بـــیله آزغـــو کله لیـــــــدلی دیه
زموږ د هر ګل سره مضبوط پـــیچونه شته دي

نن ګلستــــــان کي مي زاغـــــــان هلته او دلته ګرځي
زموږ په ګلبـــــــــڼ کي وه زاغانو ته دامونه شته دي

نن د ګلابــــــو په ګلبــــڼ کي مي کارګــــــــه ولیدئ
د پـــــښتنو په هر محفـــــل کي آتڼـــــــونه شته دي

زه ده آفــــــغان د هر بـــچي ده آینــــــــدي لیوال یم
زما په ښایـــــــــسته آفغانستان کي لا جنګونه شته دي

ربـــــه د جنګ پر ځای یو ســــــــوله آزادي راولي
زموږ په هیواد کي د ګـــــنډیـــانو سره لاسونه شته دي

قــــــلم را واخلمه د خپل وطن ناخــــــــــوالي لیکم
زما په وطــــــــــن کي لا تراوسه مات جامونه شته دي

«شکـــــــــوری» ګوري آیـئـنه کي د ګلبڼ په ځنګ کي
د هر ګلبـــــڼ په څنګ کي ډیر ډیر مات ګلونه شته دي

۱/۱۰/۱۳۹۶

# د مـــــلنګي ژوند

غـــــــریب سړی یم مـــــــــــلنګانو سره مینه کوم
زه ده مجنـــــون په شان زلمیـــــانو سره مینه کوم

ته که په مـــینه باندي نه پوهـــــــــیږي څه نه وایم
زه خـــوار غریبـــو افـــــغانانو سره مینه کوم

ته د فردو وه غلامي ته ســــــــــــلامي کـــــوه تل
زه خو پـــــــښتون یم د صـــــوفیانو سره مینه کوم

په هــــــره دښتـــــه کي غمیان شته ځلیدل کوي تل
زه په  صحرا کي ده ګـــلانو ســـــــــره مینه کوم

ته مي دا څیري ګـــــــریوان ګوره چي شلیدلی دی
زه پاچـــا نه یم پاچاهـــانو ســــــــــره مینه کوم

زه په خپل شـــعر کي د بیـــتو د کور الهام لیکمه
زه خـــوار ملنګ یم شاعـــرانو ســـره مینه کومه

شاعـــــــره ستا په دا یو بیت کي یوڅه نه ښکاریده
زه ستا برهـــــــــــان یم لیونیانو سره مینه کوم

ته راته وایه «شـــــکوری» صاحب وینا دي څه ده
ستا ده هر شعر له لیکــــــــوالانو سره مینه کوم

۲/۱۰/۱۳۹۶

# تر ترخو تریخ تر خوږو خوږ

موږ د غربي ډیموکراسي څه یادیدل نه منو
ده نور واپسو قانونو جوړیدل نه منو
موږ افغانانو یو د اسلام یو ستر قرآن یادو
له خپل مذهبه څخه وروسته څه شندل نه منو
افغانه پورته کړه آواز دي ده اسلام په نامه
د اسلام ویني نن بهیږي چپیدل نه منو
خیر که ده بعضو په ضمیر کي کوم غیرت نه ښکاري
موږ د احمد بابا بچي یو ورانیدل نه منو
زموږ له دین سر یي جګړه ده اي افغانه واوره
موږ د پتلون او نیک ټایي رواجیدل نه منو
خوله دي ده هغه شاعر وچه شي چي حق نه وایي
موږ د سرو شنډو او بنګړو بیانیدل نه منو
که څوک مین وي پر ګُدر او ده لیلا پر بنګړو
موږ دهغه شاعر اشعار نور ټوکیدل نه منو
ستا پر ولس نن کربلا ده ته سري شونډي ستایه
موږ افغانان دي ده اشعارو اوریدل نه منو
نن حقیقت تر ترخو زهرو هم تارخه ښکاریږي
موږ په نا حقه فیصلو کي غونډیدل نه منو
سبا ترخو پسي تارخه سته حقیقت به وایو
د حقیقتو فیصلو برهمیدل نه منو
زما محمد نسیم «شکوري» سر قربان تر قرآن
موږ افغانان یو پر ځان نور ویر تیریدل نه منو

۲/۱۰/۱۳۹۶

# وه ډالرو ته نڅا

خـــــون فشـــــــــان ټوله خوشحال پدي دنیا دي
ټوله نامه یي ده اِنــــــشا ډیر بي مــــــــعنا دي

د نـــــــن ورځ کي به همداسي بدبـــــــختي وي
که امیـر که مو آمي تـــــــوله بي نـــــــما دي

همیشــــــــه به دغه څـــــــواک او قدرت نه وي
د مظلوم عــــــــزت پـــــري نـــشته په سزا دي

هم الکول یی دي و مـــــــخته عـــــــزت غواړي
زه دایـــــــــي نه غواړم عزت ټول بي ثـــنا دي

د عــــــــزت چـــــوکي له هغو سره ښـــايي
چي معـــــــــذُره و خپـــــــل ته د ګـــــناه وي

تل عــــــــــدم وي پر جاهـــــــل باندي ده پوهـي
دا نا پوهـــــــه ټوله ورځ شپه په خنـــــــــدا وي

زمــــــــا ربه ته معـــــــذور ده ګـــــناه وکړي
ټوله وګـــــــړي په ثنــــا ده خــــان بـــډا دي

زه شـــــــــکوری دا په ډا ګـــه ډاګـــــه وایم
که فـــــقیر که مـو امــــیر ټول په نـــڅاه دي
/۲۲ /۹/۱۳۹۸

# ملنګي

لــــــمنه ونـــــیسه آشنا چي آیـــــــــــیني درکوم
په خـــــپلو ګوتو زه وتاته خـــپل تــــــسفي درکوم

ځیــــــــره دي وایي چي ملنګ دئ زه یي هیڅ نه غواړم
ماته مي زړه داسي ګـــــــــــویان دئ چي باني درکوم

جانان مي سري ستــــــرګي خُـمار ووانديښمند ښکاريدئ
دئ ګـــــــډيديه چي وتاته نـن پیــــــــــالي درکوم

زه په ژړا شــــــــــوم ورته وایـــــــم آی جانانه زما
زړه راته وایي مه ژړیـــــــــــږه چي ګـــوتمي درکوم

جانانه ولي په ســــــرور کي آرماني شــــــــــولي ته
په هر محــــــــفل کي زه و تاته شاعـــــــــــري درکوم

دا غمـــــــــــازان ده هر شاعـــــــــر په وینا څه پوهیږي
دا درویــــــــــــشان دي چي و تاته یي ډالـــــــــي درکوم

«شــــکوري» وایه چي بازان به همیش چیري ژوند کړي
نن بــیا غماز درته ګـــــویا دئ چي نــــــتکي درکوم

۲۲/۹/۱۳۹۸

# در حالِ سفر

یک تنـــــها هستم خـــــــانه دارم نـــــــدارم!

در ایــن دنـــــــــیا زنده هستم دمه نـــــــدارم

مــن اهــــــل سفــر هستـــــــم میرم میرم به جا

تــا حـــــالاکی میرَسم وقـــــــــفه نـــــــدارم

در این دنـــیا زنده گی خوب است بد نـــــــیست

میرم میرم بــه گــــــــلزار روضه نـــــــدارم

نوشته کو اشعـــارِ خود به ایــــــن قـــــــلم!

نـــــــــوشته مي کُــــــنم کتابـــچه نــــــدارم

من«شـــــکوري» محمد نـــــــسیم به عشق رفتم

دَلـــــــمْ آتـــــش گرفت سوزنــــــده ندارم

۴/۱۱/۱۳۹۶

## د وطن مینه ده یو جام دمیو

کله په خوب کله په ویـــــــــــښه زما تن را یاد شي
که یم اسیر په پـــــــــــنجرو کې زما وطن را یاد شي

مینه ګلاب بیلـــــــــــــــتون بورا ده د جفا یی په څه
ماته همیش فـــــــــردي ملکو کې خپل پتمن را یاد شي

زما ســـــــــــــــــلام دی د وطن پر نوم مینو زلمو
ماته مي پاڼـــــه د تاریخ کي غیرتـــــــمن را یاد شي

زما په زړه کې د وطـــــــن مینه یو جـــــــــام د میو
ماته نـــــشو کې ده افغان ښایـــــــــــسته ښڼ را یاد شي

زما محمد نســــیم«شکـــــــوري» روح د تن د وطن
ماته په زړه کې ده یو ځوان د لاسو فـــــــن را یاد شي

۲۰/۷/۲۰۱۸

# ده جانان مينه

زه دې له کور کوڅې نه جار شمه زه دې له تورو سترګو زار شمه
ستا په ياري کې دې په دار شـمه و هر غماز ته به دې خـــار شمه
که ده لرګې په شان مې آور کې سوځوې ور سره ځمه

ده مينانو په خطاب کـــــــې دا ستـــــــا ده حُسن په کتاب کې
ده ښايستو ګلو نقاب کـــــې ستا ده ښايـــستو حروفو باب کې
ده نـــــــقابـــــــــــدارو مينه تل پر زړه لــــــــــرمه

ده غمازانو په قطار کې په ژړا وايمه په ښار کــــــې
ده عاشقانو په ګلزار کې ده ښايستو سترګو بازار کې
يو مسافر يم بل په جــــــــــــيل کې شـــپـــې کومه

په هره دښته کې سلطان لرم تولـه نړۍ کې خپل برهان لــرم
ده ګلابونو شين آسمان لـرم په دين قانون کې يو جانان لرم
زه «شکــــــوري» يي عشق په زړه کې ګرځومه

۲۳/۷/۲۰۱۸

## د اسلام خلاف نـه منل

چپـــــه خوله نور پاتـــــيدل مي قـــــــلم نکړي
خــــپله خـــونــــه ورانيـــدل مـــي قـــلم نکړي

دا پـــــــه کـــــــــــوم نامه زما پر دين يرغل دی
ده فـــــــــردو خــــــبر منل مي قـــــــلم نکړي

زه افغــــــــــان يم افغانـــــيت ده ځان وياړ بولـم
داي ويـــــــــــــاړل او قبلول مـــي قـــلم نکړي

هره ورځ بـــــــــــــــمونه آوري زموږ پر کلي
دا خـــــــــــــــبر پټ شنډول مي قـــــلم نکړي

ده افغـــــــــــــــان پرهر بـچي باندي فــدا يم
ده اسلام خلاف ليـــــــــــــکل مي قـــــلم نکړي

پر ګــــــــــــريوان مي ده سرو اوښکو سيلاب راغی
ده سيــــــــلاب اوښــــــکي کتل مي قـــــلم نکړي

زه محمد نـــسيم«شـــــــــکوري» سر پري شيـــندم
ده خپل دين خلاف زغـــــــمل مي قـــــــلم نکړي

۱/۲/۱۳۹۷

## مکرر تجنس شعر

دا سترګو مي اوښکي په تلـــــــوار وار کړي
زړه او نه مي سترګو ده اغــــــــیار یار کړي

مینــــــــــه ده مـــــــــیني پر رونـــق روانه
زړه مي نـــــــــــسیم ته ده د سهار هار کړي

مینه دي ټـــــــــــــــوله ده روش پر رونق
مینه مي سپـــــینه ده ســـــــــالار لار کړي

سترګي یي ځومره مینـــــــــــه ناکي ښکاري
زمـــــــــا زړه ګـــۍ یي له بازار زار کړي

«شـــــــــکوري» درد ته یو درمل پکار دۍ
مایي ده ســـــترګو ده کــــــــــنار نار کړي

۱۸/۲/۱۳۹۸

## قلب شعر

نـــــــس مي ده ســــــــن په سرچپه ليکلی
درد مــــــــــي ده درد په پـــــــلوشه ليکلی

توت که چپـــــــــه شي هم تري توت جوړيږي
روز مــــــــي ده زور په انديـــــــــښنه ليکلی

رود چي مــــــــــعکوس شو هم تري دور جوړشو
ســــــل مي ده لــــــــس په توان ډير ښه ليکلی

هغه کوم رنګ دی چي تــــــري روس جوړيــــږي
زرد مـــــــــــي ده درز په مــــــعامله ليکلی

مــــا له انـــشاء نه هم اشــــــــــنا جوړ کړ
مـــــات مي ده تــــــــام ده زړه چپه ليکلی

جنـــــګ چي هم ګـــــــنج شي هيڅ فايده نلري
لـــــب مي ده بـــــــــــل ده زړه زره ليکلی

«شـــــــــکوري» څومره خم ده مخ پر قالــــــب
نن مي ده نن بيـــــــــا مي هغــــــه ليکلی

۱۸/۲/۱۳۹۸

# رود په دور چلیږي

نن مي وطن کي هر روز زور چلیـــــــــږي
ده هر انسان مو رول په لور چلیـــــــــږي

چي یو لغت مو سرچپـــــــــه شي بیت کي
ده هر انسان روش کي شور چلیـــــــــږي

درد که چپه شي هم تري درد جوړیـــــــږي
رود به مو همیش لور په دور چلیـــــــږي

«شـــــــــکوري» قلب دي ده شعرونو پاچاه
قلم دي روخ دئ چي اوس خور چلیـــــږي

۱۸/۲/۱۳۹۸

# سوله

یو خوا خو جنــــــــــګونه دي بل خوا ده وطن کړو
سربه پکي بایــــــــلو دا خپل تن به موږ په وینه کړو
دغه اجنبیانو زموږ میــــــــــــنه رانه ورکه کړه
کور په کور بدي یي کړه خبره به مـوږ سپـــــینه کړو
نور به نه غولیـــــږو وه افغان لره افغـــــــان وایو
دغه بدبختي ته به یو سمه لار اړیـــــــــــنه کړو
نه به الکایده یو ده چاپـــــــــړوس نامه به ایسته کړو
نور به وروړګلوي کړو یوه سوله به رنګـــــینه کړو
ولاړشی سرو لښکرو موږ افغـــان لره خپل ځان وایو
بس که دوي ولاړ نړل ده سنګر خوا به ښندیــــنه کړو
سوله ده ثابته په قـــــــــــرآن او په حـــدیث سره
قانون مو قــــــــرآن دی له حدیث سره هم مینه کړو
تل به موږ کامــــــــیاب یو فیصله چي شرعي وسي
دا ډیموکراسي به موږ په سوله سره خوړیــــــنه کړو
مـــات به هم ایران او پاکستان هم امریکا کــــړو موږ
ټوله افغــــــانان چي دا خپل لاس سره غنـــچینه کړو
نور خو ده تورمخو او سورمخو په خوله هیڅ نـــکړو
دا بي حجابي به ده قــــــــرآن په نور تورینه کړو
موږ خو پـښـتـانه یو ده احمد بابا تـــــــــاریخ لوؤلو
نن چي موږ آزاد شو دا پښتو به خاص وریښمینه کړو
ما «شـــــکوري» نن ده آبادي ده سولي غـــږ وکړ
نور به ده هیواد او ده ولس سوله رښتینـــــه کړو

۱۰/۱۲/۱۳۹۵

# خواږه او تارخه

لـــــــــــــغړي مخونه ده جنو په شان مزه نکوي
ږيـــــــــــره خريل بريت پريښودل دا پښتانه نکوي

زموږ جــــــــــګړه ده بي فرهنګو سره تل مدام وی
دايي بي فرهنګه ده پښتون سره جــــــــګړه نکوي

راسه چي وګورو ده نن وه دغه ټول فيــــــــــشن ته
پوډر پر مخ وهي پر سر هم لـــــــــــنګوټـــه نکوي

ده هم دعوه ده پــښتانه او ده اســــــــــــلام کړي ده
دا بي غــــــــيرته په روژه کي ســــــــجده نکوي

داسي کسان مي ډير ليــــــــــدلي په روژه کي ګرانه
زخميمده شي خو خوراک يي يوه خـــــــــره نکوي

اختر لا نسته خو بيا ده ورته فـــــــــيشن کړی دئ
داي خوشحالي خو په ولا چــــــــي هغه سره نکوي

زما نصيحت دئ په شعرو کي که يي اوري ګــرانه
دايي بي غيرتو ته هم ځوان ويل فائــــــــده نکوي

زه «شکوري» په حقيقت باندي خواږه تارخه کړم
داسي خـــــوږو لره تـــارخه ويل هـــوده نکوي

۱۳/۱۲/۱۳۹۵

## زخمي زړه

ستا د ښایستو سترګو په لید کې مې دا زړه ووتــــــو
زه لیـــــــــــونۍ شوم لیونتوب کې مې بانه ووتـــــو

ستا و تصویر ته زه ژړیــــږم زما جانانه ګـــــوره
پر دښت روان یم مینــــــتوب کې مې نــــــشه ووتو

ستا له دښـتو او سر درو نه زه قــــربان قــــربان شم
زه یم افغان په افغانیتــــــوب کی مې جذبه ووتـــــو

ستا دا څــلور دیرش جنتونه مې په زړه کې ګرځي
زه یم پښتون په پښتونتوب کې مې له خــوله ووتو

ستا پر ښایستو سترګو پردې ګولې چلیږي بیـــا نن
زما له زړه نه یو نا ترســــه غــــــــلبله ووتـــــو

پر خوله مې راشي ده ګلاب نوم وه ګُلخن ته ګورم
زه خوار ژړیږم له ګریوان نه مې لــــــــمبه ووتو

نور مې سینه کې له زخمو نه روغ ځای پاته ندی
زه یم زخمي له زخمیتوب نه مـــــــې اُوف نه ووتو

ده «شکوري» محمد نسیم یې سر قربان تر خاوره
زما ده قلم له وچې شونډې دا تُــــــــــــحفه ووتو

۱/۸/۲۰۱۸

## خزان

ګل چي ده ګـــــلاب واي رژیـــدل نه واي
عشق ده عاشقي واي ښـــــــکاریدل نه واي

ټول عمر ژوندون به مي ښایـــسته ښکاري
ګــــل واي وه بـــــــورا لري خندل نه واي

زړه مي ده بادام غونـــــــدي سوری سوری
سور واي په سور وینو ماتیـــــــدل نه واي

تل زه یو آرمـــــــــان پر دا خپل زړه لرم
تل واي مسافـــــــــــر خو تـــنګیدل نه وای

زما چي را په یاد شي ده جانان ســـــــترګی
تل مي اوښکي درومي ګرځیــــــــدل نه واي

زما چي یي په یاد شي ښایـــــــــــسته حُسن
زه واي تل خوشحاله ړنګــــــــیدل[1] نه واي

ګران مي رانه بیل شو جـــــــــــــدایي شوله
زړه مي ناکرار چي غـــــــــــبړیـدل نه واي

زما محمد نسیم «شـــــــــــکوري»زړه ژاړي
تل مي طـــــــوق[2] کتل واي ژړیـــدل نه واي
۵/۷/۱۳۹۶

۱:خرابیدل،له منځه تلل،
۲:ده غاړي ځنځیر،غاړکي،ده طلا ځنځیر

## ده قرباني ذبحه

قـــــــــرباني قـــــــــربانوو په لوي اختر کي
دا خپل زړه خوشحــــــــالوو په لوي اختر کي

ده اختر ورځ خوشحالي ده موږ یي لـــمانځو
ټول اسلام خوښي کوو په لوي اخــــــتر کي

په ټول کال کي الله دوه اخـــــــــــتره راکړه
قرباني ذبحه کوو په لوي اخـــــــــــتر کي

ابراهیم یي هـــــــــم پدغه ورځ قربان کوی
دا خپل زړونه صبرو په لوي اخـــــــتر کی

ربه دا اخـــــــــــتر ده سولي او ده آمن کړي
دا آرمان پر زړو لرو په لـــــــوي اختر کي

زه محمد نسیم«شـــــــکوري» تل ژړیـــږم
خپل جامي ولي خیرو په لوي اخـــــتر کي

۹/۶/۱۳۹۶

## ګلاب او بورا

چي ده ګـــــــل په طلـــــب ګرځیــــــــــدئ آشنا
په ښایـــــــــست یي شول خـــــبر واړه دنـــــــیا

زي د حُـــــــسن ده رڼا شولـــــــــــم لیـــــــواله
دا ده ګل له ښـــــــه وواشــــــتــــوو بیـــــــګا

زما زړه یي په نــــــــــرمي نرمي اوبـــــــــه کړ
چي خـــــبر شـــوم ده ښایـــــــــستو په دا وینا

زه همـــیش ده خفــــــګاني سره مــــــــلګرئ
ده خفـــــــــــګان نه مي خبر کړل بي وفـــــــا

ده جانان ده ښایـــــــــــستو ســــــــترګو لپاره
ما پریـــــــــــښي ده خپل ژوند ټـــــــــوله بقا

ده پــــــــښتو له ادبـــــــــــیاتو سره مـــــل شوم
ده آدب په کـــــــــور کي اوســـــــــــم نن سبا

ده خفګان سره ژوندون مي ټول تـــــــــبا شوو
چي مي و لـــــــــــټل ګـــــــــــــلابو کي بـورا

ده شنه کشت حاصل که هر څومره بي شي شي
بیا هم نـــــــیسي په صــــــــحرا کي څه جینا

زما محمد نسیم«شـــــــــــکوري» خوار وینا ده
دوستي مــــــــه کړئ دبـي دیـــــنو ده جـــــــفا

۲۶/۶/۱۳۹۶

# بې خونده مینه

چي په مینه کي پـــــــیغور وي خـــوند يي نـــشته
محبت کي چي ســـر زور وي خـــــوند يي نـــشته

مـــــینه مـــــــینه خـــو په مـــــینه پیـــداکیـــږي
یو زړه صاف او بل تـــک تور وي خوند يي نشته

اوسني یــــــــــــارانو داسي یــــــــــارانه وي
یارانه کي چي زړه سوړ وي خـــــوند يي نشته

نن بیا ډیـــــــــر یم خنـــــدیـــدلی زه یــــــواځي
په خندا کي چي منفور[1] وي خــــــــوند يي نشته

«شــــــــــکوري» یم ژړیـــــدلی وه خپل رب ته
چي په شـــکر کي مـــــنثور[2] وي خـــوند يي نشته

۱: نفرت/ کرکه

۲:پریشان/ناخوښه

## ده پسرلي هوا

ده پـــــــسرلي موســم کې داسې ښه هـــــــوا ده
ټول دښـــــــــــتونه دي شنه شوي رنګ نـــــما ده

ده باران مـــــــيده مـــــــيده څاڅکي وريــــــږي
په بيـــديا کې ده ګـــــلاب رنـــــــګه فـــــضا ده

هره دښـــــــــت يي له چـــــمن نه کمه نــــــــده
ده چمن په شـــــــاني ښه رنګ او زيـــــــبا ده

زموږ ده زړه يـــــــــادونه ټـــــــوله ده ګلاب وه
لکه سينـــد چي له اوبـــــــو سره غـــــــوغا ده

ده ګـــــــودر وختونه زمـــا ډيــــر يادیــــــــږي
ده بـــــــورا په شاني زړه مي ده عـــــــينا ده

ده عاشق په شاني زه شـــــــــوم بـــــــيله ګرانه
ده ګـــــلاب په طــــــلب ګـــــــرځم دا صحرا ده

ده مـــــــجنون غوندي یاران مي ډېر یادیــــــــږي
په ګُلـــــــــــخن کي ده باغو غوندي عــــــقبا ده

ده یــــــــــارانو په یـــــادونو کي ډوبیـــــــــږم
ده دریـــــــاب په شــــــاني زړه مي ده بــــــقا ده

بي دوستانو ژونـــــــدون دومره راته ګـــــــران وو
لکه اورتــــــه چــــي اوبــــــه داســـــــي دوا ده

زُما یار چي بي وفـــــــــــــــآ شي زه یي څه کړم
دا چي زړه کي مي ځاي ورکړ زمــا ســــــــــزا ده

همیشه ده بی وفاوو دوستـــــــــي مــه کـــــــــړئ
زما نسیم«شــــــــکوري» خاص دغه وینا ده

# ده خالق وحدانیت

پرمخ يي ده ښايستو خالو ځلا وه ځليدله (آسمان)
په توره نيمه شپه كي يي رڼا وه ځليدله (سپوږمۍ)

سينه باندي يي پورت يم زي مين په شپه او ورځ كي (جانماز/مصلح)
پر زړه مي ده ده عاشق ده عشق تقوا وه ځليدله (مين)

اوښكي دي تويږي پر ځيګر د شا ليلا باندي (باران)
مخ يي وو لوند شوۍ شا ليلا وه ځليدله (ځمكه)

ده تورو تاريكو يوه پرده يي مخ ته راغلل (وريځ)
ږغونه آوازي شوي چي طلا و ځليدله (برق/ تالند)

په شمار دي دري لسيزه راسۍ پاڼي يي كه ګورۍ (قرآن كريم)
په هر ګله جمله كي يي فتوا وه ځليدله ( آياتونه)

په مينه كي يي اوسم بيله ميني ژوندون ګران دۍ (پيغمبر(ص))
ښايسته دۍ په خپل حُسن چي شِفا وه ځليدله (محمد(ص))

محمد نسيم«شكوري» ده خالق وحدانيت ياد كړ (بي شريكه)
ده زړه پر هره برخه يي ثنا وه ځليدله

۲۲/۷ /۲۰۱۸

## ده اختر سینګار

اختـــــــره تا خو ده ګلاب غوندي سینــــــــګار راوړی
وه هر ګُلــــخن لره دي ډک ده عـــــــشق بازار راوړی

ستا وه راتلو ته خوشحالي کړی که ماشـــــوم دی که ځوان
تا ده وطـــــــــــن وه هري دښـــــــتي ته بهار راوړی

بلـــــــبل ریـزونه کړی ده وني ده ګلاب څانـــــــګو کي
تا وه مجنون ته ده لیـــــــلا ده لاس یادګــــــار راوړی

اختـره ته خو یو ده ســـــــــولي بل ده آمـــــــن یار شي
تا زمـــــــوږ وطن ته ده کلاب غـــوندي رخسار راوړی

مــــــوږ توره شپه کي یو ده ستورو او شغــــــــلو په تمه
اخـــــتره تا خو زمـــــــوږ زړونو ته دلـــــــدار راوړی

اخـــــــتره تاته مـــــــرحبا وایو مـــــــــدام په زړو کي
تا په خـــــــپل څنګ کي یو نعمت ده کـــــــــردګار راوړی

محمد نـــــسیم«شــــــــــکوري»یون دی ده اقرار په لوري
په خپل دفـــــتر کي ده اختر ده عـــــــشق اشعار راوړی

۲۰۱۸ /۸/ ۱۶

# په اختر کې اسيرتوب

اخـــــتره تا کې خوشحالي وه اوس غــــمونه راغله
په جــــيلخانو کې مـــو ده وږونو آوازونه راغـــــله
موږ خوشحالي به څنـــګه وکړو راته وايه ګــــــرانه
چي زموږ په کلـــــي کې دردنـــــاکه وحشتونه راغله
پخوا به څـــــومره ده اختر ورځې خـــوږې تيـــريدي
چي په ميلو کې به قطار قطار آســـــــــونه راغله
يار او دلدار به هم جوړه جوړه پر څنګ ګرځيــــــده
اوس هديـــــــره کې ده قبرونو قطارونه راغـــــله
تولـه ځوانان مو شهيـــــــــدان شوه يتيمان يي پاته
چي ده اختره ورځ کې څو سوي فــــــرِيادونه راغله
هــــــم يـــــــــتيمانو ده بابا، بابا ناري وهـــــلي
دوي بابا جـــــــان غوښتې ببر، ببر سرونه راغله
موږ خوشــــحالي به څنګ وکړو ده اختر ورځو کې
چي هـــــــديري کې ده ځوانانو تــــابوتونه راغله
ربه زاري مو کـړي قبول لاس په دوعـــــا يو تاته
غمونه ورک کړي خوشحالي کړې اختـرونه راغله
دا اخترونه به په څومره ښه خوښـي تيريــــــــږي
چي له زندان نه مو ځوانان تول سره لاسونه راغله
ببر سر ګرځيدې نسيم «شــــــکوري» داســـي ويل
چي مې په زړه کې ده اخــتر څومره يــادونه راغله

۳۰/۳/۱۳۹۶

# ده تیر وخت یادونه

په کنارو کي ده آســــــــمان نــــــــن قطارونه تیر شوه
زاڼي قطار قطار ده تیر ســـــــــهار وخـــــتونه تیر شوه

ده کوهسار نــــــــــسیم ده ګلـــــــــو پر شبنم پریوتی
ده ګل ګلاب پر سرو ګلونو څه ســـــــــــازونه تیر شوه

باران دي آوري ،اوري ،دوري ده پــــــــسرلي موسم کي
په تیر پسرلي کي څه مستان مست سیــــــــلابونه تیر شوه

په تیر وخـــــــــــتو پـــــسي آرمان یوه عجیبه وینا ده
پرما هم تیر وخت ده بیلتون ده لاس زخــــمونه تیر شوه

ستا په راتلوونکي کي ده تیر وخت اندیــــــــبنه پاتي ده
پرهر یو کس باندي ده تیر وخت څه فــــــکرونه تیر شوه

«شــــکوري» ولي ده تیر وخت په یادیدو کي ډوب شوم
تیر وخــت ماشوم وم پر ما ځومره ډیر خوبونه تیر شوه

۲۵/۲/۱۳۹۸

## له ګناه څخه توبه

په تیر وخت کې له نــــــقصان سره مې شپه وه
خُماري وم له خپل ځان ســــــــره مې شپه وه

میـــــــــــــــخانې کې ده شرابو بازار ګرم وو
ده دربار له یو سلطان ســـــــــره مې شپه وه

ماته ګـــــــــــوري ده شرابو جام یې لاس کې
مست خُمار شوم له شیــــــطان سره مې شپه وه

توبګار چې شوم پر تیــــــــــرو عــــــملونو
ده شـــــــــــــرابو له خزان سره مې شپه وه

یو رحیم رحـــــــــــمان غفار ته استغفار کړم
توبګار شوم له سبحـــــــــــان سره مې شپه وه

ده شیطان پر وسوسو آعــــــــــــــــوذ وایم
ده جانان ده سپین قــــــــــرآن سره مې شپه وه

ده توبې ده قبلیدلو وخت لا شـــــــــــــته دئ
ده غفار رحیم رحمــــــــــــان سره مې شپه وه

«شــــــــــکوري» ده خپل ګناوو استغفار کړي
په تیر وخـــــــت کې له طُـغیان سره مې شپه وه

۲۵/۲/۱۳۹۸

## مقام ته رسیدل

چي قدم په قدم رسي وه مـــــــــــــقام ته !
هغه ستوري ده عـــرفان دي په جهان کي

چي نزول ده عـــــرفان نه وي ورته شوئ
داده ړوند ده لاس اِمسا وي په بیــــبان کي

چي په خوله کي يي عسل ده شاتو ښکاري
داده رب ښايــــسته اِنعام وي په انسان کي

ده اخلاقو ثــــــــــمر خوږ ديـــــه تر شاتو
دا پر هر يو کس الزام دئ په بيــــــان کي

«شـــکوري» تر ډيرو لږ ښه وي عمل کي
هر سهار نسيم تيريــــــــږي په آرمان کي

١٩/٩/١٣٩٧

# غـــــليمه

پـــــــر ما نا پامه غټ بـــــــمونه اوري

بـــــد وحشتـــــــــــناکه آوازونه اوري

ږغ شـــو چي بُـــــم يي پر وطن دي پريوتۍ

ده خوار غـــــــــريبو پر مسکن پريوتۍ

خان صاحب له تانه زه پـــــــــوښتنه کوم

ده هر يتـــــيم ده وير غــــــــندنه کوم

جيب کي پـــــــيسي کور کي فلډر لري ته

ده خوار غـــــريب مرګ ته خنجر لري ته

هم دي دولـــــت او هم دي واک په لاس کي

ده خـــوار يتيم مال ته دي ځواک په لاس کي

تا لوي قصرونه زموږ په وينـــــو جوړ کړه

هم دي په سرو هم دي په سپينو جـــوړ کړه

تاته ژوندون کي لا خـــــــيانت په کار دی

ندي وطن ندي عـــــــــيزت په کار دی

يو تش ده جيب ښه ډکيدل پيـــــــــژني

بـــــل ناروا خوړل ښځل پيـــــژني

رشـــــوت چي وه نه خوری هيڅ تاب نلري

دادي عدت دئ چي څه بـاب نــــــــــلري

مـــــــورږ دا یــــو سوال له خان ملا نه کوو

ده خپل غــــــریب ده خپل باچاه نه کـــــوو

مورږ چي کتلیـــــږو وام پر څه کتلیـــــږو

هم پر مــــــکتب هم مــــدرسه کتلیـــــږو

تـــــــعلیم مو دین دین مو ایمان یادیـــــږي

زمورږ پرخیل دین همیش زندان یادیـــــږي

هــــــــلته هر سوال لره ځواب پــــکار دئ

وه هر مــــــــــــجرم لره عذاب پکار دئ

هلته میزان ده عدالت چلیـــــــــــــږي

ندي پـــــــیسه ندي دولت چلیــــــــږي

هلـــــــــته قاضي هــــــلته باچا یو دئ

هلته عفوان زمورږ ده ګــــــــــناه یو دئ

زمـــــا توبه له خپـــــــــل خطا څخه ده

بــــــــــــل مي توبه له خپل ګناه څخه ده

زه «شــــــــکوري»لاس په دوعا یم رب ته

پرخپـــــــــــل ګنـــــاه خطا ژړا یم رب ته

۸/۶/۱۳۹۷

# په اوښکو باندي لوند ګریوان

زما ده میني امتـــــــــــحان وو چي یي کـــــډه وکړه
زما ده بـــــــــدن ده زړګي خــــان وو چي یي کډه وکړه

الله دي تل دا غمــــــازان داسي ټوټي ټوټـــــــي کـــړي
ژونـــــــــدون مي ټوله ده جـــانان وو چي یي کډه وکړه

غلیمه پام چي ده ګـــــــــودرلاره یي ورانــــــه نــــکړي
زړګی مي ټوله بــــــــند زنـــدان وو چي یي کډه وکړه

زه همیشه ده خـــــــــــپل وفا او آرمـــــانو کیسي کړم
زما ده زړه پرسر هجران وو چي یــــــــــــي کډه وکړه

مجــــــنونه تاته ده معلـــومه حقــــــــــیقت به وایو
لوند خو په اوښکو زما ګـــــــریوان وو چي یي کډه وکړه

ده خو وه ماته ده خپل حُسن او ښایست کیـــــــــسي کړي
دی له غمازه ډیر ستـــــــــــومان وو چي یي کډه وکړه

زه یي ده خپل حُــــــسن په باب کي ډیـــــر لیواله کړمه
زما آرمان بل مي خــــــــــــندان وو چي یي کډه وکړه

ډیر ښایـــــسته وو په ښایـــــست یي ټول جهان پوهیـدی
زما زړګی ډیر پـــــــــــــریشان وو چي یي کډه وکړه

زما محمد نسیم«شـــــــــکوري» خاص زړګی فریاد کړي
زما بدن ټول په لـــــــــــــړزان وو چي یي کډه وکړه

۲۹/۵/۱۳۹۶

# وه پردو ته چلنج

دا اننـــــــګي دي ســــــتا پـه ویـــنو سره شـــي
دا ستا ځـــــــواني دي ســــتا پـه وینو ســره شي
چـــي ســـــــــــــــتا ده کلي خلک تـــاته ګوري
دا ستا بنـــــګړي دي ســـــتا پـه وینو ســـره شي
غمـــــازه واوره او پـه ستـــــرګو يي ګـــــــــــوره
دا ســتا منګۍ دي ســـتا پـه ويـــــــــنو سره شي
زه خـــو ښايـــسته افغانــــستان نوميــــــــــــږم
زما لښتـــــــــي دي ستا پـه ويـــــــنو سره شي
دلتـــــه ده روس بـــــــچو هم شکست خوړلۍ
ستا غـــــــــــمازي دي ستا پـه وينو سره شي
مـــــــــــــــوږ وه افغان لــره خپل ورور وايو تل
ستا خارجـــــــــــــــي دي ستا پـه وينو سره شي
دا چي پرديـــــــــــــــــــو ته زمري وايي ته
دا ستا زمــــــــــــري دي ستا پـه وينو سره شي
زه ده احمد او ميرويــــــس خان وطـــــــــن يم
دغه پـــــــــــــــردي دي ستـــا پـه وينو سره شي
زه لا ده روس څــــــــخه آمــــــان آزاد کړم
ستا پاچاهي دي ســـــــــــــتا پـه وينو سره شي
ولس ته تا ويـــــــــل آزادي لمانــــــــــځو نن
دا آزادي دي ســـــــــــتا پـه ويـــــــنوسره شي
شاعــــــــــــــــره ته که حـــــقيقت نه وايي
ستا شاعـــــــــــــري دي ستا پـه وينو سره شي
زه «شــــــــــــکوري» خو ده وطن آرمان کړم
ستا غــــــــــــداري دي ستا پـه وينو سره شي

۲۴/۵/۱۳۹۴

# ده عشق دفتر

په توره شپه کې مې ده تورو غـــــــرونو سر خوښیـــدی
تېوله شپه ویښ وم په څـــــــراغونو کې مې لمر خوښیـــدی

دغه خـــــــو تېوله ده خپل ځانه راته پـــــــــیښنه شوله
پر دښت روان وم زما په دښته کې دلـــــــــــبر خوښیدی

ده کلي تېوله دلـــــــــــبران داسي واړه ښکاریـــــــــدل
پدا صحرا کې خومي هسي يو بـــــــــــــشر خوښیدی

زه لا ماشوم وم په قضیـــــو باندي يي نه پو هیـــــــــــدم
په ماشومتوب کې زما همیش ده عشق دفـــــــــتر خوښیدی

په لوړ قیمت مي خپل زړه خـــرڅ کړ چي به څه پري واخلم
زما ده خپل يار ښايستي سترګي او ځـــــــــــــګر خوښیدی

زما ده زړه کـــــــــــــــوڅه کې تل ډیر عاشقان ګرځیدل
زه چي عاشق شوم زما همیش ده عشق خبر خوښـــــــــیدی

زما په زړه کې به يي ياد هـــــــــــمیش غونـــچه وو
چي ډیر وخت نه وو زمايي يو سپـــــــــــــیره سفر خوښیدی

زما نسیم«شـــــــــــــــکوري»تل زړګی خوشحاله ښکاري
چي ده جانان به مي همیش تیره خنجر خوښیـــــــــــــدی

۳۱/۵/۱۳۹۶

# اجنبیانوته چلنج

ده امریـــــکي وه ګـــــــــــوډاګیانو ته اختـــــــار لرو موږ
وه دا راغـــــــــــــلو اجنبیانو تي ګـــــــــــــذار لرو موږ

دوي خو زموږ منځ کي فراق او تفریقي جـــــــــوړي کړي
وه خـــــــــــــــلیل زاد ته تُحفه کړی ډک بُــــــخار لرو موږ

بیــــــــــــــــــداره نه یو، یو خاکساره بل ده دیـــن جذبه ده
وه هر مـــــردود تي ده افغان ده ننګ خُــــــــــمار لرو موږ

دوي بـــــــــــــــــشردوسته او راغلي مـــــــیلمانه ځان بولي
وه دي راغــــــلو ته ده غرونو سپیـــــــــــــن قطار لرو موږ

وه هـــــــــــــر ښـــــــامار تي ده ودوم یوه حل لار پیدا ده
وه بي ودومو تي ده مرګ تیره ابـــــــــــــــــــزار لرو موږ

موږ افغانان ټوله دا خـــپل میهـــــــــن بــــــــــرباد نه غواړو
هم ده لیـــــــــــــــــدلو ښــــــــکلولو زیب هندار لرو موږ

راسی هنـــــــــــــــــــداري کي ده زیب زینت حل لار پیداکړو
پردي پردي دي ده دوستي په نوم اغـــــــــــــــــیار لرو موږ

«شـــــــــــــــــــکوري!» ټولو افغـــانانو نه یو سوله غــــــواړم
سوله مو غوره. ده ژوندون یو هسک مـــــــــــــــنار لرو موږ

۷/۱/۱۳۹۸

# پسرلني سوله

ده پــــــــسرلي ګلاب همیش زیــبا وي
پر معطرو بي ده ځــــــــــوان نسل قضا وي

بلبلان مو په شـــــــنو ونوکي چغیـــــــږي
وه آواز تي به ده هر مـــــاشوم موســـکا وي

په لاښـــــــــو کي مــو ده ګلو بوټي شنه شول
پر صحراوو مو ده ځـوان نـــــسل نــښا وي

شین آسمان کي هم له ورایه ستوري ښـــــــکاري
پر شنه دښت بي  هم ګلاب تــل په نــــــما وي

غرونه شنه لـــــــمني شني دښتي مو شني شوي
ده بــــــلبلـــــو هم همیش پکـــــښي غینا وي

ده وطـــــــــــن ماشـومان حالا ساتیرۍ کړي
هر مجلس ته مو ده سولي تـــــــــــــمنا وي

ده سهار نسیمه څــــومره ښُـــــــکلۍ دromي
دا هـــــوا خو ده جنت غوندي هـــــوا وي

ربه ته دغه پـــــــــــسرلۍ ده سولي هار کړي
دا پــــــسرلۍ به ده ګـــــــلابو په ځلا وي

«شـــــکوري» رب ته دوعا کړی تل ده ســولي
ده پـــــــــسرلي سوله راتـــــلل به خوشنما وي

۶/۱/۱۳۹۸

# خوشبویه پسرلی

ده پسرلي هوا معطر ده په جهان کي
ونې شني بوټي مو شنه دې په بیبان کي

ده ګلابو معطر هم ډیر احساس کیږي
ټول ځوانان مو دي خوشحال افغانستان کي

دا وطن مو ګلستان دی ده ګلونو
لاش مو شین صحرا مو شنه ده په جهان کي

ماشومان مو ده پسرلي سندري وایي
بلبلان وني کي ناڅي په غینان کي

هر لحظه مو ده پسرلي نظر ده نذر
وریځي ګرځي په هر دم په شنه آسمان کي

بارانونه دي وریځی. دي خوندونه
بلبلان ټوله خپه دي په خزان کي

دهقانان مو په پسرلي کي ونې شِندي
ځای ښایسته وي تل ده ونو په میدان کي

هر شباب مو دی یو سولي ته لیواله
دغه مینه مي ده زړه ده تل جریان کي

«شکوري» دي ده وطن مینه کي ډوب دی
زما مینه زما برهان تل په وجدان کي

٦/١/١٣٩٨

# «««څلوريزي»»»

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

هــــــر محفل د قراعت په پیل خوند کـړي
دا وینـــــا د ښــکلي نیت په پیل خوند کـړي
شـــــکوري اوس د شاکر په کـــاروان ویاړو
هــرکاروان د نیک همت په پیل خوند کړي

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

چي یي مینه د اسلا م په زړه کي نه وي
مــــوږ ده داســـي انسانانو نه انکار کړو
چي یي حق په شعر کي نه وي رانغاړلي
مــــوږ ده داسي شاعرانو نه انکار کړو

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

ښکلي سترګي په هر شعر کي تل بیان وي
زمــــــا مینه په هــر شعر کي د جانــان وي
په ستایـــــــلو یي معفیت تر لاسه کیــــږي
زما مینــــــه د مــــحمد آخیر زمـــــــان وي

۲۹/۷/۱۳۹۷

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

## ځماسي

### د وطـن او دوطـن د ولـس ږغ

اختـــــره زه یم سر ببر څیـري ګـــریـــوان ګـرځـمه
په لڅـو پښـو زه په اختــر کـــي پر بیابان ګـرځـمه
پام چي زمـوږ کلي ته رانـسي غمـــــونه ډیـر دي
زه هدیـره کي د افغــان ســره ســتومان ګـرځـمــه

زما محمد نسیم «شـکوري» زړګیه صلحه غواړي

په اختـرو کـې زه همـیش خفـګان خفـګان ګرځمه

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

## خُماسي

د کـفن غـوټي مــي و سـپړی مـلــــــګرو

کـــــــه په شـپه او کـه په ورځ وم مــرورو

د وطــــــن دده د فـا عـــي امـــنـیــت لـــپاره

زه بــه ویــنــي تـویـوم پـر خـــــــپل بــاتورو

زه مـحـمـد نسـیم«شــکوري» شــکر کـانـــدم

کـه پـُخـلا شـواست بـي بریتو او بریتـــورو

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

## *ده وطن مینه*

چي مي په زړه کي ده وطن مینه رنــــــــګینه ښکاري

خلکو جنون نه یم سوچو کي مي دا ورینه ښـــــــکاري

«شکـــــوري» ویښ یي که ویده یي ته وطن را یاد کړه

ماته خوبو کي د نـــــــــــسیم د فرهار وینه ښکاري

۲/۷/۲۰۱۸

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

زه دا خــــــــــپل ږغ او آوازي څـه کوم

چي پـــــــــــــښتو نه ولـــوولي څه کوم

خـلـک چي زما په حق کي وکړي چــــړچي

زه «شــــکوري» خـــوار زنده ګي څه کوم

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

ژوند خو رانه واخله بس دلبر خورانه مه اخله

«شکوري» پښتون یمه سنګر خو رانه مه اخله

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@
سولي سترګي مي ژړيـــــــــږي زه تا غواړم
دا وطن په تا جوړيـــــــــــږي زه تا غواړم
ده ټوپک پر ځای قلم به زمـــــوږ رواج شي
«شکوري» نور خوشحاليــــږي زه تا غواړم
@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@
ده تنهايي په آور کړيـــــــــــږم زه يواځي يمه
پډغه سرو لبمو سوځيـــــــــږم زه يواځي يمه
نه مي دوستان نه مي ياران کوي يـــوار پوښتنه
زه «شکوري» په ځان پوهيږم چي يـواځي يمه
@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@
بل سوه سره اورونه زمـــا پر زړه باندي
داغ يي کړم پر اصل ځيــــــګره باندي
شُکر«شکوري» چي بي پښتو نه شوئ
خاص يي زه مين شوم پر ســـينه باندي
@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@
خوږ آواز او ولـــــــــــوولي لري پښتو
ښي ځانګړي تراني لـري پـــــــــــښتو
پر پښتو به قربان  کړو خپل ســــرونه
«شکوری» هم ښي لهجي لري پـــښتو
@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@
قـــــــلمه ليک مي پر زړګي وليکه
ده غماز مرګ هم سم دســتي وليکه
چي ده زړګي سره مي مينـــه کوي
ما«شکوري» ته يي دوستي وليکه
@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@
يار مـــــــــــي ده ميني په اثـــــر ژړيـږي
زخمي زخمي مــــــي ده زړه ســـــر ژړيـږي
په بيـــــــلتانه کي ورځي شپي تيــــــــــروم
زما«شکوري» اوس خاص ځيګر خوږيــــږي
@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@
ګیله مو ده د خپله څه ده بل څخه ګیله نــــــــــکړو
تږله جفاګانې مو ده خپل دي چپه خوله نکــــــــړو
وایم«شکوري» خوار چې حیران به ورته پاته شي
نر مو نرماده شوه پر مخانو هم پوډر نـــــــــکړو
@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@
ړیــــــــــــــره یې خریلي ده پرسر یې هم آمتن دئ
دغه بې فرهنګه ده فارس که واشنتــــــــــــن دئ
راغلل ښایسته افغانستان چې اســـــلام ورک کړي
دغه ده کافر بـــــــــــچی زموږ سره دوښمن دئ
@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@
اختره تاته خوشحالي کړو ته موسکا راوړه
و دا څیرلو فرهــارو لـــــــره دوا راوړه
اختره هر ماشـــــــــوم وتا لره لبیک وایي
ته هر ماشوم ته یوه ســـوله بل ځلا راوړه
@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@@

**د شکوري صاحب ملاقات په کابل کې له سمیع الله اتل او ځینو نورو دوستانو سره**



**کندهار تجارتي آداري او مالي انستيټيوټ کي ده اداري مديريت له پروګرام څخه هم «شکوري» په لومړۍ درجه فارغ شوی دی چي همدا اوس يي ځيني تصويرونه تاسوته ښکاري.**







**«شکوري» صاحب په ځینو رسنیو کې هم ګډون کړی دی چې اوس یې ځینې تصویرونه درته وړاندې کوو.**






**«شکوري» صاحب ده خپـــلو همصنفیانو په څنګ کې ډېر خوشحاله ښکاري**



«شکوري» صاحب ته ده عَناب ګل په مشاعري کي ده حيدري صاحب لخوا ستاينليک ورکول کيږي




په ځينو نورو پروګرامونو کي هم «شکوري» صاحب ستينليکونه او سندونه تر لاسه کړي دي چي اوس تاسو ته تر سترګو کيږي

